مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم ۲۰۲۳/۰۷/۲۴

# د ګړېدلو اداب

يوه حکيم ويلي دي: ((د هر څه په باره کې چې خبرې کوې، فکر وکړه؛ خو هر څه چې فکر ته درځي مه يې وايه)) نه پوهېږم چې دا به د چا وينا وي؛ خو غوره وينا ده چې وايي: ((لږ فکر بيا وينا))

په ۱۳۶۴ کال کې مې په اماني ليسه کې د اووم ټولګي په ژمني کورس کې درس ويل. د ټولګي کپتانه مو شازيه نومېده. يوه ورځ مو استاد لا ټولګي ته نه و راغلی، هلکانو شيطاني کوله. شازيې وويل: ((غلي شئ که نه نو بوټ به مې راوباسم)) په هغو شپو کې مې په ټلويزيون کې د ((پاکيزه)) فلم ليدلی و. د فلم په يوې صحنې کې نجلۍ ويده ده، هلك ورته يو يادښت پرېږدي: ((پښې دې ډېرې ښکلې دي، پر ځمکه يې مه ږده، ناولې به شي)) ما هم بې له دې چې فکر وکړم، دغه ډيالوګ مې ورته ووايه. نجلۍ په ژړا شوه. زه ډېر پښېمانه وم؛ بخښنه مې ترې وغوښته خو ويې نه بخښلم. داسې خاطرې او يادونه لږ نه دي، چې تر اوسه مې ځوروي؛ خو دومره مرسته يې راسره کړې ده، چې اوس په ورته حالاتو کې معمولاً په خپلې خبرې غور کوم.

که د چا خبره نه وي خلاصه او موږ خپله شروع کړو، دا نو سمه بې ادبي ده. همدارنګه که ګورو چې مخاطب مو خبرو ته نه دی غوږ، بهتره ده چې خبرې بس کړو.

اکثر خلك د دې لپاره چې څوك خپه نه کړي، نه وايي چې کار لري؛ خو هره ګړۍ خپل ساعت ته ګوري. دا په دې مانا چې هغه بيړه لري. په داسې حالت کې بايد هغه ته اجازه ورکړو، چې لاړ شي.

ځيني خلك د وينا پر وخت سړي ته دومره خوله نژدې کوي، چې د خولې بوی او د سا تاو يې د سړي پر سپېږمو لګېږي. خصوصاً هغه کسان چې سګرټ څکوي يا نسوار اچوي او يا اومه پياز يا هوږه يې خوړلې وي، نو خوله به يې خامخا بوی کوي.

د څوارلس پينځه لس کلونو وم، د ترور کره تللی وم. ترور مې د خپلې نږور په غوږ کې وپسپېده، دواړو وخندل. ما ګومان وکړ چې په ما پورې خاندي. تر ډېرې مودې بيا د هغوی کور ته نه تلم. که په مجلس کې له چا سره خاصه خبره لرو او نه غواړو چې نور يې واورې، نو بايد د پسپېدو پر وخت بل ته ونه ګورو او که خندونکې خبره وي، بايد ځنې تېر شو.

په يوه قوم، قبيلې يا د يوې سيمې په خلکو پورې بد ويل، له لويه سره غلط کار دی، ځکه چې پر ډلو باندې د ښه يا بد حکم کول، له واقعيته لرې وي. په خاصه توګه که د هماغې ډلې يو څوك هم په مجلس کې حاضر وي، بايد ډېر احتياط وکړو.

په ډېر لوړ غږ غږېدل، مخاطب په عذابوي. زما کور د اپارتمان په بنه جوړ دی. پخلنځی او د مېلمنو کوټه سره نژدې دي. يوه شپه مې څو ملګرې مېلمانه کړې وو، د ډوډۍ پر وخت مې يوه ملګرې په لوړ غږ ټوکې ټکالې شروع کړې، دغه ملګرې مې يو وخت زما د الټراسوند ماشين خراب کړی و او له ما يې پټ کړی و. ما هم ورته نه و ياد کړی. مېرمن مې په پخلنځي کې وه. زه په دې وېرېدم چې مېرمن مې دغه چټي ټوکې وانه واري؛ نو سړی مې راټينګ کړ، چې تا ولې زما ماشين خراب کړی و. سړی غلی شو. پر هغه شپه زما نور ملګري رانه خوابدي شول، چې ولې مې هغه زهير کړ؛ خو ما بله چاره نه درلوده. له هغې شپې راوروسته مې دغه ملګري خپل کور ته نه دي رابللي. چټي خبرې هېڅ چېرې نه وي ښې؛ خصوصاً د بل په کور کې بايد خپلو خبرو ته ډېر پام وکړو.

له نسوارو په ډکه خوله ګړېدل به مناسب کار نه وي. يو خو سړی خپلې خبرې سمې نه شي کولای او بل دا چې ممکن ناړې يې وبهېږي او د نورو خوا وګرځوي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

له بحثه ډېره کول د هر چا په ګټه دي؛ خو که څوک بحث کوي نو بهتره ده چي په سړه سینه وګړېږي، احساساتي کېدل د سړي کم عقلي ښيي.
که په مجلس کي پخپله ډېر وغږېږو او نورو ته د خبرو موقع ورنه کړو، دومره به بده وي لکه د نورو د ډوډۍ برخه چي مو خوړلي وي. په مجلس کي هر څوک د وینا حق لري. که وینو چي یو څوک هېڅ نه وایي، مانا یي دا ده چي یا مجلس د هغه په طبع نه دی، یا د ویلو لپاره څه نه لري، یا خبري لري خو د ویلو زړه یي نه لري. یو مشر استاد پېژنم چي په داسي حالاتو کي د چوپ سړي طبع معلوموي او په خبرو یي راولي. که هر څوک په بنډار کي د خبرو چانس پیدا کړي، نو ټول به ځني خوند واخلي.
موږ اکثراً له نورو د شخصي مسایلو پوښتني هم کوو. غوره دا ده چي له دې خبرې تېر شو او که کومه شخصي پوښتنه له چا کوو، باید دا حق ورته ورکړو، چي که نه غواړي حال دې راته نه وایي. که مسایل شخصي هم نه وي؛ خو د مخاطب له ځوابه پوهېږو چي ځان باسي، باید ټینګار ونه کړو.
هېڅوک په هر څه نه پوهېږو، که داسي پوښتنه رانه کېږي، چي په هکله یي معلومات نه لرو؛ نو بهتره ده چي صفا خبره وکړو. د ((نه پوهېږم)) جمله په ډېر مشکل سره زموږ له خولي څخه راوځي. دا ځکه چي موږ ځانغواړي یو، باید له هر څه خبر اوسو، په هر څه وپوهېږو؛ خو دا د بني ادم له وسي پورته دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ